education above all
التعليم فوق الجميع

## ولي تول پلاستيک؟ ( دویمه درجه)

| | |
|---|---|
| توضيحات | زده کوونکو ته کیدای شي دا فرصت برابر شي چې د پلاستیک په کیفیت او د هغه کارونه باندې پوه شي. او له هغې وروسته به زده کوونکي په دې هم پوه شي چې څنګه د پلاستیک کارونه په کورونو کې ودروي. زده کوونکي به د پلاستیک په بدیل کار وکړي او خپلو کورنیو ته به په دې اړه قناعت وکړي چې پلاستیک کارونه وځنډوي او پر ځای یې له کوم بل بدیل څخه کار واخلي. |
| مخکښه پوښتنه | آیا کولای شئ پلاستیلک ته کوم بل بدیل برابر کړئ؟ |
| د اړتیا تول وخت | په ۵ ورځو کې ۶.۲۵ ساعته |
| د اړتیا توکي | یوه د ځمکې د کیندلو وسیله، دوه لرګي، میوري، د میوو پوچاقي یا شنې پاڼې، یوه ټوټه پلاستیک. قلمونه، کاغذ، زوړ رخت، رسی او داسي نور. |
| د زده کړې پایله | - د بیولوژیکي خرابتیا او کمپوست په اړه پوهیدل<br>- د موادو د تکامل په اړه تاریخي پوهه<br>- د پلاستیک او د هغه کاروني په اړه پوهیدل<br>- د پلاستیک د زیان او ګواښ په اړه چې چاپیریال ته رسیږي پوهیدل<br>- د پلاستیک د بیاځل کاروني او د هغه پر ځال د کوم بل بدیل پیدا کولو په اړه پوهیدل<br>- د پلاستیک د بدیل په اړه پوهیدل<br>- د ژور فکر وده او د مهارتونو ډیزاین<br>- د پریزینټیشن او د اړیکو مهارتونه جوړول |
| مخکینی زده کړه | هیڅ |

## لومړی ورځ

نن ورځ به تاسو د پلاستیک او د هغه د بیاځل کاروني په اړه پوه شئ.

| ورانديز شوی وخت | توضیحات او فعالیتونه |
|---|---|
| ۵ دقیقې | ● تاسو به وکولای شئ د پلاستیک په اړه پوه شئ.<br>● کوم څه مو چې د پلاستیک په اړه زده کړل له خپلو والدینو سره یې شریک کړئ. |

education above all | التعليم فوق الجميع

| | |
|---|---|
| ۱۰ دقیقي | ● څه فکر کوئ چې هره ورځ څومره پلاستیک کاروئ؟<br>● د خپل کور د پلاستیک کاروني کچه په هره اونۍ کې په ټلي سیستم کې جوړه کړئ.<br>دغه د ټلي ورقه د لاندي کالمونو درلودونکي وي: |
| | ۱ . پلاستیکي توکي<br>۲ . د کاروني شمیر هره ورځ<br>۳ . یوازې د یو کس د کاروني کچه<br>۴ . د ټولي اونۍ د کاروني کچه<br>۵ . د بیاځل کاروني یا د پلاستیک د بدیل په اړه وړاندیز |
| ۱۵ دقیقي | ● اووه ډېر کاریدونکي پلاستیکي توکي چې ستاسو په کور کې کارول کیږي او تاسو د خپلو کورنیو غړو سره د هغوی په هکله بحث کوي په نښه کړئ.<br>● مثالونه یې کیدای شي دا وي: بوتلونه، د جوس پیپونه، پیالي، پلاستیکي کڅوړې، بکسونه، د خوراکي توکو کڅوړې، د ځان مینځلو د حمام توکي او داسې نور. |
| ۱۰ دقیقي | ●<br>د شمیر یو چوکاټ جوړ کړې چې د پلاستیکي توکو د کاروني کچه وښیي |

| توکي | د توکو د شمیر کارونه په یوه اونۍ کې | یو ځل کارونه | د کاروني ټول شمیر | د کاروني کمښت/ بیاځل کارونه/ بدلول |
|---|---|---|---|---|
|  پلاستیکي کڅوړه | لومړۍ ورځ<br>دویمه ورځ<br>دریمه ورځ<br>څلورمه ورځ<br>پنځمه ورځ | هو | زده کوونکی احتمالي کارونه: ۵ داني<br>کورنی احتمالي کارونه: ۵ داني<br>ریښتینی شمیر: ۳ | کمښت: د کاروني کمښت<br>بیاځل کارونه: بیاځل د پلاستیک کارونه<br>بدلول: د زده کوونکو د جوړو شوو بدیلونو کارول |

| | |
|---|---|
| ۱۰ دقیقي | ● یو کالم د دې لپاره ډېر کړئ چې آیا پلاستیکي کڅوړه یو ځل کارول کیږي مخکې له دې چې لرې وغورځول شي.<br>● په دې فکر وکړئ چې دغه پلاستیکي توکي مخکې له دې چې لرې وغورځول شي څو ځله کارول کیږي او دغه کار د صحیح یا غلطې علامې د یوځل کاروني په کټګورۍ کې په نښه کړئ. |

التعليم فوق الجميع | education above all

| | |
|---|---|
| ● ستاسو د څېړنو په بنسټ کوم پلاستيکي توکي په يوه اونۍ کې ستاسو په کور کې ډېر کارول کيږي.<br>● د کورنۍ غړو سره مو مرکه وکړئ او په دې اړه بحث په لاره واچوئ. | ۱۰ دقيقې |
| په دې اړه فکر وکړئ چې په دغې پروسه کې تاسو څه ترلاسه کړل او له کوم شي څخه مو ډېر يا لږ خوند واخيست او کومو ننګونو سره مخ شوی او داسې نور. | ۵ دقيقې |

## دويمه ورځ

نن ورځ به دا زده کړئ چې بيولوژيکي تخريب څه دی او څنګه دوران کوي،

| توضيحات او فعاليتونه | وړانديز شوی وخت |
|---|---|
| ● د بيولوژيکي تخريب په اړه پوهيدل – چې په دغه پروسه کې مواد په طبيعي ډول له منځه ځي او په خاوره بدليږي.<br>مونږ ممکن په پلاستيک او خوراکي توکو باندې يوه تجربه وکړو چې څه ورته پيښيږي.<br>- دواړه واړه سوري دې په خاوره يا بڼ کې وکيندل شي او که چيرته داسې ځای شتون و نه لري بيا دې د بوټو په لوښو کې سوري جوړ شي.<br>- په يوه سوري کې دې پلاستيکي توکي واچول شي او په بل سوري کې دې شني پاڼي له ميوو سره يوځای واچول شي.<br>- دواړه سوري په خاورو سره وپوښئ او نښې پرې وکړئ چې دا د پلاستيکو او دا بل د پاڼو او ميوو ځای دی. | ۲۰ دقيقې |
| وروسته له يوې اونۍ څخه يې وګورئ چې پلاستيکي توکي څه ډول شوي دي او پاڼي او ميوې څه ډول شوي دي. | ۱۰ دقيقې |
| ● په دې اړه فکر وکړئ چې کورنۍ څه ډول پلاستيکي توکي غورځوي او هغه بيا څه کيږي؟<br>● د پلاستيک د ژوند په دوران په تصويري بڼه د لاندې لينک په کارولو سره بحث او څېړنه وکړئ.<br>لينک:<br>https://www.wwf.org.uk/sites/default/files/2020-02/WWF_Plastics_Explainer.pdf<br>● هغه ځايونه چيرته چې پلاستيک غورځول کيږي رسم کړئ.<br>په دې اړه فکر وکړئ چې غورځول شوي پلاستيکي توکي مو چيرته ليدلي دي؟<br><br>● هغه پلاستيکي توکي چې د سړک په څنډو يا په اوبو کې غورځول شوي دي را ټول کړئ. د پلاستيک دغه توکي په وړو، وړو ټوټو بدليږي چې وروسته مرغان او نور ژووي هغه خوري او ناروغيږي. | ۲۰ دقيقې |

| | |
|---|---|
| ۱۰ دقیقې | • د اونۍ د یادښت کتاب کې مو د ورځني پلاستیکي توکو کارول په نښه کړئ.<br>• ښه داده چې دغه یادښت د ورځې په پای کې ور اضافه کړئ تر څو پوه شئ چې څومره پلاستیکي توکي مو کارولي دي. |
| ۱۰ ــ ۱۵ دقیقې | خپل نظرونه مو د پلاستیکي توکوو او میوو په اړه چې تاسو خښ کړي دي او همدارنګه هغه ځایونه چې پلاستیکي توکي پرې غورځول شوي او تاسو رسم کړي دي خپلو کورنیو یا ټولګیوالو سره شریک کړئ او د هغوی نظرونه هم د دغه کار د پرمختګ لپاره واخلئ. ( که کوم نظر وي). نظرونه سره یوځای کړئ. |
| ۵ دقیقې | تاسو کوم معلومات تر لاسه کړل او په دغه پروسه کې کوم څه ښه او کوم څه ښه نه وو، او تاسو کومو ننګونو سره مخ شوی او داسې نور؟ |

## دریمه ورځ

نن به تاسو په دې پوه شي چې کوم پلاستیکي توکي ستاسو د کور شاوخواه کارول کیږي او د هغو بدیلونه وواياست.

| وړاندیز شوی وخت | توضیحات او فعالیتونه |
|---|---|
| ۱۰ دقیقې | • له خپلو نیکونو سره یا نورو د کورنیو غړو سره مرکه وکړئ او په دې پوه شئ چې هغوی څومره له پلاستیکي توکو څخه کار اخیسته.<br>• په هغوی بدیلونو فکر وکړئ چې په تیر کې د پلاستیک پر ځای کارول کیدل.<br>سمدستي پوښتني:<br>• ستاسو د ځوانۍ په وخت ډیر پلاستیک کارول کیده؟<br>• تاسو د پلاستیک پر ځای کوم بل څه کارول؟ |
| ۱۵ دقیقې | • د توکو مقایسوي تصویرونه چې په تیر کې بې له پلاستیکه وو او په اوس کې چې له پلاستیک سره دي رسم کړئ.<br>• که چیرته د تیر وخت تصویرونه نه شي رسمولی، د هغې پر ځای یې د توکو یو لیست برابر کړئ. |

<table>
<tr><td>
<ul>
<li>لاندې کاري پاڼه د ټولو پلاستيکي توکو کاروني لپاره ډکه کړئ تر څو وکولای شي د دغو توکو د بيا کاروني، د کمولو او بدلولو په اړه پلان جوړ کړی شئ.</li>
<li>ځيني اړيني پوښتني دادي:
<ul>
<li>د دغه پلاستيکي توکي کارونه او موخه څه ده؟</li>
<li>د غه پلاستيکي توکی څومره اړين دی؟</li>
<li>آيا مونږ د پلاستيک پرځای د نور څه کارولو اختيارونه لرو؟</li>
<li>آيا مونږ کولای شو د دغو پلاستيکي توکو کارونه کمه کړو.</li>
</ul>
</li>
</ul>
<table>
<tr><th>د پلاستيکي توکي نوم</th><th>د توکي د کاروني موخه</th><th>د توکي د اړينوالي کچه</th><th>د پلاستيکي توکو پر ځای د نورو توکو کارونه</th><th>آيا کولای شو د دغو توکو کارونه ټيټه کړو</th></tr>
<tr><td></td><td></td><td></td><td></td><td></td></tr>
<tr><td></td><td></td><td></td><td></td><td></td></tr>
</table>
د اونی د يادښت کتاب کې مو د ورځني پلاستيکي توکو کارول په نښه کړئ.<br>
ښه داده چې دغه يادښت د ورځې په پای کې ور اضافه کړئ تر څو پوه شئ چې څومره پلاستيکي توکي مو کارولي دي.
</td><td>۲۰ دقيقې</td></tr>
<tr><td>خپل ټول د ورځې معلومات مو له کورنۍ غړو يا والدينو سره شريک کړئ او د هغوی نظرونه هم د دغه کار د پرمختګ لپاره واخلئ. ( که کوم نظر وي).</td><td>۱۰ ــ ۱۵ دقيقې</td></tr>
<tr><td>د کورنۍ غړو او والدينو نظرونه سره را ټول کړئ.</td><td></td></tr>
<tr><td>تاسو کوم معلومات تر لاسه کړل او په دغه پروسه کې کوم څه ښه او کوم څه ښه نه وو، او تاسو کومو ننګونو سره مخ شوی او داسې نور؟</td><td>۵ دقيقې</td></tr>
</table>

## څلورمه ورځ

نن به د هغو موادو په اړه څه زده کړئ چې د پلاستيک پر ځای کارول کيږي.

| توضيحات او فعاليتونه | وړانديز شوی وخت |
|---|---|
| | |

| | |
|---|---|
| ۳۰ دقیقي | په پیل کې د پلاستیک په بدیل، کمښت او د بدلون په لارو فکر وکړئ<br><br>- لومړی په هغو پلاستیکي توکو فکر وکړئ چې تاسو یې بدلولی شئ.<br>- له خپلې کورنی سره په دې بحث وکړئ چې د پلاستیک پر ځای کوم څه کارولی شئ لکه، ټوکر یا رخت، کاغذ، سنی، ښیښه او داسي نور.<br>- د موادو د ساتلو لپاره د نورو څیزونو کارونه و ازمایئ لکه، (په کوم بل څه کې شامپو ساتلی شئ؟ بل څه ډول کولای شئ چیپس بسته بندي کړئ؟ او داسي نور.)<br>- دا وښیئ چې دغه نوې حللارې به کار وکړي که نه، او ازمایښت یې کړئ.<br>- د پلاستیک د کارونې اړینې ځانګړتیاوې وپیژنئ. |
| ۲۰ دقیقي | سمدستي پوښتنې:<br>- آیا نور مواد لمدیږي؟ آیا هغه څه چې د دغو توکو په منځ کې دي لمدیږي. ( لکه، ټوکر یا رخت او کاغذ)<br>- آیا نور مواد دوامداره دي ــ آیا دغه توکي شکیږي یا په اسانی سره ورستیږي؟ ( د مثال په توګه، کاغذ او ښیښه)<br>- آیا نور مواد درانده دي او په اسانه توګه ورسره سفر کیږي؟ ( د مثال په توګه، اوسپنه او ښیښه)<br>- آیا ټول مواد په هر شکل کې جوړیدی شي؟ |
| ۲۰ دقیقي | په داسي پلاستیکي توکو فکر وکړئ چې بدلیدونکي نه وي او پلان ورته جوړ کړئ چې څنګه د هغوی کارونه را ټیټه کړو. په یو پلان فکر وکړئ چې څنګه د دغو توکو کارونه را ټیټه کړو د مثال په توګه، د چپسو یوه غټه کڅوړه واخلو چې ډیر وخت یې وساتلی شو او داسي نور.<br><br>د هغو پلاستیکي توکو یو لیست برابر کړئ چې د بدلیدو او کمیدو امکان یې نه وي او په دې فکر وکړئ چې آیا کومې لارې شته چې دغه توکي تر ډیر وخت پورې وکارول شي. د مثال په توګه، یوه پلاستیکي کڅوړه د غلو یا خوراکي توکو د اچولو لپاره وکاروئ، یا یوه پلاستیکي کڅوړه د خځلو د اچولو لپاره تری ګټه واخلئ او داسي نور. |
| ۱۰ دقیقي | په هغو پلاستیکي توکو فکر وکړئ چې بدلیدونکي او کمیدونکي نه وي او دا هم وواياست چې آیا بیا د کارونې وړ دي. |
| | د مثال په توګه، یوه پلاستیکي کڅوړه د غلو یا خوراکي توکو د اچولو لپاره وکاروئ، یا یوه پلاستیکي کڅوړه د خځلو د اچولو لپاره تری ګټه واخلئ او داسي نور. |
| ۱۰ دقیقي | د اونی د یادښت کتاب کې مو د ورځني پلاستیکي توکو کارول په نښه کړئ.<br>ښه داده چې دغه یادښت د ورځې په پای کې ور اضافه کړئ تر څو پوه شئ چې څومره پلاستیکي توکي مو کارولي دي. |
| ۱۰ ــ ۱۵ دقیقي | خپل ټول د ورځې معلومات مو له کورنی غړو یا والدینو سره شریک کړئ او د هغوی نظرونه هم د دغه کار د پرمختګ لپاره واخلئ. ( که کوم نظر وي).<br><br>د کورنی غړو او والدینو نظرونه سره را ټول کړئ. |

| | |
|---|---|
| ۵ دقیقې | تاسو کوم معلومات تر لاسه کړل او په دغه پروسه کې کوم څه ښه او کوم څه ښه نه وو، او تاسو کومو ننګونو سره مخ شوی او داسې نور؟ |

## پنځمه ورځ

نن به تاسو خپله کتنه پای ته ورسوئ او د پلاستیک د بیرته تر لاسه کولو په اړه به معلومات ورکړئ.

| وړاندیز شوی وخت | توضیحات او فعالیتونه |
|---|---|
| ۱۵ دقیقې | کوم توکي چې تاسو خښ کړي وو بیرته یې له سوریو څخه را بهر کړئ او وګورئ چې څومره په پلاستیکي او څومره په خوراکي توکو کې بدلون راغلی دی.<br>ستاسو د کتنې پر بنسټ، دا خبره شریکه کړئ چې تر اوسه څومره بدلون په موادو کې راغلی او په راتلونکو اونیو کې به څومره نور بولون راشي؟ |
| ۱۰ دقیقې | د اونۍ د یادښت کتاب کې مو د ورځنې پلاستیکي توکو کارول په نښه کړئ. د دغو معلوماتو په کارونې سره، اوس د یادښت کتاب باید د ټولو ورځو اړین معلومات او رینتیني ارقام ولري. |
| ۳۰ دقیقې | د اونۍ ټول کارونه سره راټول کړئ. او یو پوستر تري جوړ او د کورنۍ غړو ته د پلاستیک د کم کارونې، د بیا کارونې او بدلونې په اړه قناعت ورکړئ او په لاندې ډول تري وپوښتئ: |

| توکي | د توکو د شمیر کارونه په یوه اونۍ کې | یو ځل کارونه | د کارونې ټول شمیر | د کارونې کمښت/ بیاځل کارونه/ بدلول |
|---|---|---|---|---|
| <br>پلاستیکي کڅوړه | لومړۍ ورځ:<br><br>دویمه ورځ:<br><br>دریمه ورځ:<br><br>څلورمه ورځ:<br><br>پنځمه ورځ: | هو | د زده کوونکي احتمالي کارونه: ۵ داني<br><br>د کورنۍ احتمالي کارونه: ۵ داني<br><br>رینتینی شمیر: ۳ | کمښت: د کارونې کمښت<br><br>بیاځل کارونه: بیاځل د پلاستیک کارونه<br><br>بدلول: د زده کوونکو د جوړو شوو بدیلونو کارول |

| | |
|---|---|
| - مونږ څومره پلاستيک کاروو؟<br>- ولي د پلاستيک کارونه ښه نه ده؟<br>- ولي پلاستيک يو ځانګړی توکی دی؟<br>- کوم څه مونږ کمولی، بيا کارولی يا بدلولی شو؟<br>- د معلوماتو وکولو په وخت کې خپل د يادښت کتاب وکاروئ، کمپاين وکړئ، يو پوسټر جوړ کړئ.<br>● خپلې کورنۍ سره د خبرو په وخت کې ډاد تر لاسه کړئ چې هغوی په دې سره قناعت وکړي چې ولې پلاستيک کارونه زيان رسونکې ده او څومره پلاستيک کارول کيږي، او د پلاستيک د کمښت، بيا کاروني او بدلولو لپاره څه بايد وشي. | |
| خپل دليل بايد کورنۍ ته وړاندې کړې او پوه شي چې څو کسانو قناعت وکړ – او دا وواپه چې ولې د کورنۍ نورو غړو په دې اړوند قناعت ونکړ ( که کوم يو وي) او فکر وکړه چې هغوی په څه کې ستونزه درلوده. | ۱۵ دقيقې |
| تاسو په دغې ټوله پروژه کې کوم معلومات تر لاسه کړل، او په دغه پروسه کې کوم څه ښه او کوم څه ښه نه وو، او تاسو له کومو ننګونو سره مخ شوی او داسې نور؟ | ۱۰ دقيقې |

## د ارزونې معيارونه

- تحليلي فکر کول او کتنه وشوه.
- د معنی لرونکو او تعقيبي پوښتنو وړتيا لرل.
- د پلاستيک د بديل لپاره ژور فکر او د ستونزو حللاره جوړول.
- د خبرو، ليکلو يا رسمولو وضاحت

### د فعاليتونو اضافي بداينه

- کيدای شي دغه فعاليتونه د ډير وخت لپاره و غځول شي تر څو بيولوژيکي تخريب چې عموماً څلور مياشتې وخت نيسي وليدل شي.

### د اسانتيا لپاره بدلون

- زده کوونکي کولای شي د اونيزې يادښت جوړ کړي او فکر وکړي چې کوم توکي کميدی او کوم توکي بيا ځل کارول کيږي.